مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

لیکوال: سراج الحق ببرک زی ځدراڼ ۲۰۲۶/۱۰/۰۹

# دوه اوسپنیزه سیاستوال، دوه ملتونه؛ امیر عبدالرحمن خان او صدراعظم بیسمارک د ځواک، دولتجوړونې او سیاسي واقعیت پالنې یوه تاریخي ـ تحلیلي پرتله

## څلورمه او ورستۍ برخه

### ۶۷ . د لارډ کرزن ارزونه (Lord Curzon-- George Nathaniel)

لارډ کرزن له ۱۸۹۹ څخه تر ۱۹۰۵ کال پورې د برتانوي هند د نایب‌السلطنه په توګه دنده ترسره کړې او د برتانوي راج له اغېزناکو اداري چارواکو څخه شمېرل کېږي. نوموړی په ۳۹ کلنۍ کې دې مقام ته وټاکل شو او د برتانوي هند تر ټولو ځوانو نایب‌السلطنو څخه و. د ډیورنډ کرښې د هوکړې څخه څو کاله وروسته، کرزن د برتانوي هند د نایب‌السلطنه په توګه دنده پیل کړې.
د کرزن د بهرنۍ تګلارې له مهمو موخو څخه یوه د تزاري روسیې د پراختیایي سیاستونو پر وړاندې د برتانوي هند د سرحدونو ساتنه وه. له همدې امله افغانستان د برتانوي هند او روسیې ترمنځ د حایلي سیمې *(Bufffer state)* په توګه د بریتانیا امپراتورۍ ښکیلاکي سیاست په محاسباتو کې ځانګړې اهمیت درلود. په همدې چوکاټ کې، له امیر عبدالرحمن خان سره د اړیکو ساتل د برتانوي هند د بهرنۍ او سرحدي تګلارې یوه مهمه برخه وه. د عبدالرحمن خان د واکمنۍ د وروستیو کلونو له مهمو سیاسي پېښو څخه د برتانوي سیاستوال جورج ناتانیل کرزن له سره لیدنه وه. د افغانستان د شمال لوېدیځې پولې، د تزاري روسیې د نفوذ، د افغانستان د ستراتیجیک موقعیت او د دواړو حکومتونو د اړیکو په اړه د خبرو لپاره مهم فرصت و. دا سفر د ۱۸۹۳م کال د ډیورنډ له موافقې وروسته ترسره شو. د عبدالرحمن خان د خپل روایت له مخې، د دوی په خبرو کې د افغانستان د شمال او شمال لوېدیځ سرحدي وضعیت او د روسیې د نفوذ مسئله مهمه وه. د امیر د ځای ناستي موضوع هم د پاموړ وه، ځکه هغه وخت د سلطنت د راتلونکي او د واک د انتقال مسئله د برتانوي هند لپاره هم ستراتیجیک اهمیت درلود.
د عبدالرحمن خان زامن، حبیب الله خان او نصرالله خان، هم له کرزن سره لیدلي وو. د دې لیدنې اهمیت یوازې په هغو موضوعاتو پورې محدود نه و، چې په رسمي خبرو کې مطرح شوې. کرزن له اوږدې مودې راهیسې د منځنۍ اسیا، د روسیې د پراختیا، د هند د شمال لوېدیځې پولې او د افغانستان د ستراتیجیک موقعیت په اړه مطالعه کوله. له همدې امله له افغان امیر سره مخامخ لیدنه د هغه لپاره د سیمې د سیاسي واقعیتونو د مستقیم درکولو لپاره یوه مهمه موقع وه.
د عبدالرحمن خان او کرزن ترمنځ د خبرو پر مهال د ژبې ستونزه هم موجوده وه. کرزن په انګلیسي خبرې کولې او خو عبدالرحمن خان په انګلیسي ژبه نه پوهېده؛ له همدې امله د دوی د خبرو لپاره ژباړونکي یا د امیر د دربار د منشي له لپارې ژباړه او منځګړیتوب کېده.
عبدالرحمن خان په خپل روایت کې هم د کرزن د ارزونې په اړه لیکي: هغه یو پوه، تجربه کار، زیارکښ او د لوړو ارمانونو لرونکی ځوان بللی و. دا تعبیر د هغه د شخصي برداشت ښکاره‌ندوی کوي او باید د امیر د خپل روایت په توګه ولوستل شي، نه د کرزن د شخصیت په اړه د یوه مستقل تاریخي حکم په توګه.

کرزن په ۱۸۹۴ کال کې کابل ته سفر وکړ او شاوخوا دوه اوونۍ یې د امیر عبدالرحمن خان د مېلمه په توګه تېرې کړې. د دې سفر پر مهال یې له امیر سره مخامخ او نسبتاً اوږدې خبرې اترې وکړې او د افغانستان د سیاسي وضعیت، د امیر د واکمنۍ د څرنګوالي او د دواړو لورو د اړیکو په اړه یې مستقیمې مشاهدې ترلاسه کړې. نوموړي وروسته د امیر عبدالرحمن خان په اړه خپلې مشاهدې او ارزونې په لیکلي بڼه ثبت کړې، چې د هغه د سیاسي شخصیت او د افغانستان د هغمهالني وضعیت د درکولو لپاره د تاریخي سرچینې په توګه ارزښت لري.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

لارډ کرزن د امیر عبدالرحمن خان په اړه یو پېچلی، خو تر یوه بریده متوازن انځور وړاندې کوي. هغه امیر یوازې ,,ظالم,, نه بولي؛ بلکې د هغه د شخصیت دوه ظاهراً متضاد اړخونه په ګډه بیانوي. له یوې خوا، عبدالرحمن خان د سختدریځه، بېرحمه او مطلق‌العنان واکمن په توګه انځوروي او له بلې خوا، هغه د امیر هوښیارتیا، مدبرتوب، تدبیر، مهرباني، خوش‌مزاجي او د ظرافتونو او نزاکتونو پر وړاندې د علاقې یادونه کوي. کرزن دغه ارزونه د ۱۸۹۴ کال په کابل کې له امیر عبدالرحمن خان سره د خپلو مخامخ لیدنو او اوږدو شخصي خبرو اترو پر بنسټ وړاندې کړې ده.

## ۶۸ . د اوسپنیزه امیر د شخصیت په اړه لارډ کرزن ارزونه

کرزن لیکي: عبدالرحمن خان په دیارلسو کلونو کې د افغانستان واک د خپل شخصیت او وسلې په زور ټینګ کړی و او د مخالفینو مقاومت یې په خورا سختۍ مات کړ. د کرزن په تعبیر، د افغانستان هېڅ پخواني واکمن دومره په سختۍ سره د افغان پر ,, نه رامیدونکی آس,, سپور نه و، لکه امیر عبدالرحمن خان او هېڅ افغان واکمن د هېواد په یووالي کې دومره اغېزمنه ونډه نه وه اخیستې لکه امیر عبدالرحمن خان. خو دا ملي یووالی د ډېر سخت او ویرونکي زور له لارې رامنځته شوی و. نوموړی لیکي: عبدالرحمن خان یوازې ,, ظالم,, شخصیت نه و. خو دی سمدستي لږ وروسته د امیر د شخصیت بل اړخ داسې بیانوي:

,, هغه یو ډېر سخت او بېرحمه سړی دی، په عین حال کې، تر یوه حده ډېر خوش‌اخلاقه یا خوش برخورد، مېنه ناک، مدبر، مهربان او د نورو احساساتو درناوی‌کوونکی هم کېدای شو. د کرزن تر ټولو په زړه پورې مشاهدات دا دي، چې د ده په وینا، دغه ډېر سخت او ظالم واکمن په شخصي ژوند کې اکثره مؤدب؛ مدبره، مهربان، خوش برخورد؛ د خلکو د حالاحوال په پام کې نیولوونکی هم و.

کرزن حتی د امیر عبدالرحمن خان د شخصي ذوقونو یادونه کوي: عبدالرحمن خان عطرونو، رنګونو، باغونو، سندرو ویونکو مرغانو او ګلونو سره مینه لرله. هغه یې د عملي او واقعیتګرا انسان تر څنګ یو داسې شخص هم ګڼي چې له عرفاني او روحاني تصوراتو سره علاقه لرله.

## ۶۹. د اوسپنیزه امیر د عدالت په اړه یوه تر ټولو مهمه کیسه بیانوي:

د کرزن په روایت کې یوه ډېره مهمه قضیه شته، هغه لیکي: عبدالرحمن خان یو سړی په ناحقه اعدام کړ، وروسته ورته څرګنده یا ثابته شوه، چې د هغه پر ضد وړاندې شوي اسناد او شواهد ټول ناسم ول. د دې تېروتنې له امله امیر خپله خپل ځان ۶۰۰۰ روپۍ جریمه کړ او دغه پیسې یې د وژل شوي کس کونډې ته ورکړې. د وژل شوي سړي کونډه، د کرزن د روایت له مخې له دې امله ډېره خوشاله وه، چې له یوې خوا یې له مېړه څخه خلاصون موندلی و او له بلې خوا یې د خپل ژوند د بیا پیل لپاره یوه اندازه مالي مرسته تر لاسه کړه.

دا روایت د عبدالرحمن خان د عدالت په اړه یو مهم دوه اړخیز تصویر وړاندې کوي. له یوې خوا یې د یوه انسان ژوند په ناحقه واخیست، له بلې خوا یې خپله تېروتنه ومنله او ځان یې خپله مجازات کړ.

کرزن لیکي: د هغه قضایي نظام ډېر سخت او د اعدامونو او مجازاتو پر بنسټ و، خو کله چې امیر خپله قضایي تېروتنه درک کړه، د ځان لپاره یې هم د قانون/عدالت د مسؤولیت تصور درلود، یعنې هغه ځان له هر ډول حساب ورکونې څخه مطلقاً مستثنا نه باله. البته دا یوه ځانګړې پېښه ده او له دې څخه دا نتیجه نه شي اخیستل کېدای، چې د عبدالرحمن خان ټول قضایي نظام عادلانه و. کرزن په عمومي توګه د هغه د واکمنۍ سخت او جبري ماهیت هم په څرګندو الفاظو بیانوي.

## ۷۰. د افغان امیر د شخصیت یو ډېر جالب اړخ

کرزن لیکي: عبدالرحمن خان د فارسي ژبې شاعر سعدي له شعرونو سره مینه لرله او خورا پیاوړی د طنزي حس یې درلود. دا ټکی د هغه د شخصیت هغه اړخ راښیي چې یوازې د ,,اوسپنیز امیر,, له تصور څخه ډېر پراخ دی.

,, کرزن د عبدالرحمن خان په شخصیت کې یو متضاد ترکیب ویني: هغه د واک د ټینګولو لپاره له سخت ځواک او بېرحمۍ څخه کار اخیست، خو په شخصي ژوند کې یې د مهربانۍ، طنز، ښکلا، شعر او روحاني تصوراتو لپاره هم ځای درلود. د عدالت په برخه کې د کرزن هغه روایت چې امیر د یوې ناحقه وژنې له امله ځان ۶۰۰۰ روپۍ جریمه کړ، ښیي چې عبدالرحمن خان د خپل سخت قضایي نظام تر څنګ د شخصي مسؤولیت او عدالت یو ځانګړی تصور هم درلود. له همدې امله د هغه شخصیت یوازې د ,,ظالم,, یا یوازې د ,,دولت جوړوونکي,, په یوه ساده تعریف کې نه راټولېږي.,,


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

کرزن ارزونه څکه مهمه ده، چې هغه عبدالرحمن خان شخصیت نه یوازې د ظالم واکمن په توګه، بلکې د یوه پېچلي او متضاد شخصیت په توګه انځوروي.

## ۷۱. اوسپنیز امیر عبدالرحمن خان څنګه خپل واک ټینګ کړ؟

د کرزن په ارزونه کې درې مهم عوامل تثبت شوي دي: شخصیت، پوځ، سخت یا وچ زور. د ده په اند، عبدالرحمن خان په دیارلسو کلونو کې خپل واک په ټول افغانستان کې ټینګ کړ.
بیسمارک او عبدالرحمن خان دواړو ,,اوسپنیزو سیاستوالو,, د دوو ملتونو مشرانو د دولت د پیاوړتیا لپاره د ځواک له وسیلې کار واخیست؛ خو د بیسمارک اوسپنه له ډیپلوماسی، قانون او سیاسي محاسبې سره یو ځای وه، په داسې حال کې چې د افغانستان بیسمارک عبدالرحمن خان اوسپنه تر ډېره د مرکزي واک، پوځ او د داخلي مخالفتونو د سخت ځپلو پر محور ولاړه وه. خو ,,اوسپنیزه مانا,, په دواړو کې یو شان مانا نه لري، د لته د علمي تحلیل تر ټولو مهم ټکی دی.
عبدالرحمن خان ,,اوسپنیز,, څکه شو، چې مرکزي دولت یې د داخلي مقاومتونو پر وړاندې په سخت پوځي او اداري زور ټینګ کړ.
بیسمارک ,,اوسپنیز,, څکه شو چې د جرمني د یووالي او پروشیایي دولت د ځواک لپاره یې پوځ، ډیپلوماسي او واقعیت پالنې سیاست په خورا هوښیارۍ سره یو ځای کړل.

## ۷۲. څېړنوال ډیویډ بي اډوارډز د اوسپنیز امیر د واک ټولنیز ـ سیاسي اړخونو تشریح کړي

پورفیسور ډاکټر ډیویډ اډوارډز یو امریکایي انتروپولوجیست یا انسان پېژندپوه او د پوهنتون استاد و. نوموړي د مېشیګان له پوهنتونه د انتروپولوجي یا انسان پوهنې په برخه کې خپل د دوکتورا ,,پي ایچ ډي,, سند ترلاسه کړي او د ۱۹۷۰ لسیزې پرمهال یې په کابل کې د ساحوي څېړنو او تدریس په چارو کې ډېر وخت تېر کړی دی. نوموړي په خپل اثر *(Heroes of the Age: Moral Fault Lines on the Afghan Frontier)* ,, کې د زماني اتلان: د افغان پولې په اوږدو کې اخلاقي درزونه,, په دې کتاب کې د عبدالرحمن خان واکمنی ته ځانګړی فصل ورکړل شوي دی، چې نوم یې دی*(The Reign of the Iron Amir)* دغه فصل څلور مهمې برخې لري: د اډوارډز اثر اهمیت په دې کې دی، هغه یوازې نه پوښتي، چې عبدالرحمن خان ,,څه وکړل؟,,؛ بلکې دا هم څېړي چې:
د امیر واک څنګه د خلکو په سیاسي تصور، اطاعت، عزت، وېرې او د دولت په جوړښت کې ځای پر ځای شو؟
همدا موضوع د ,,اوسپنیز امیر,, اصطلاح ته ژوره مانا ورکوي. نوموړي دولت د جغرافیې له لارې تعریفوي. اډوارډز د دولت د نقشې او د امیر د سیاسي تصور له لارې یوه مهمه مسئله په کې راڅېړي.
د عبدالرحمن خان لپاره افغانستان یوازې د قبایلو او سیمو مجموعه نه وه؛ هغه غوښتل چې ټول د افغانستان قلمرو د یوه واحد مرکزي دولت په توګه تصور او اداره شي. د امیر شاهي دولت نقشه په دې مانا وه:
قلمرو → مرکزي واک → اداره → قانون → اطاعت.
دا د ننني عصري دولت جوړوني یا د تیوري حقوق دولت له مهمو ځانګړنو سره تړاو لري: دولت باید یو مشخص قلمرو، اداره، ولس او مرکزي حاکمیت ولري.
د بیسمارک ټولنیز دولت؛ هغه اړخ چې د ,,اوسپنې,, تر سیورې لاندې پټ پاتې کېږي.
بیسمارک په ۱۸۸۰مو کلونو کې د نړۍ د لومړنیو پراخو دولتي ټولنیزو بیمو سیستمونه رامنځته کړل، لکه د ناروغۍ بیمه، د کاري پېښو بیمه، ټولنېزه بیمه او د زړښت او معلولیت بیمه.
د جرمني تاریخي ملي موزیم د څېړنو په حوله، دا قوانین د کارګرانو د ټولنیز امنیت لپاره د دولت د مسوولیتونو نوی پړاو پرانیست. البته د بیسمارک موخه یوازې ټولنیزه هوساینه نه وه؛ هغه غوښتل کارګران له سوسیال دموکرات غورځنګ څخه هم تر یوه حده د دولت پر لور راجذب کړي. نو بیسمارک په یوه وخت کې سیاسي سرکوب او ټولنیز اصلاحات دواړه وکارول. اوسپنیزه امیر د مرکزي افغان دولت پیاوړتیا او اوسپنیزه صدراعظم د متحد جرمني بنسټ کېښود.

## ۷۳ . د امیر عبدالرحمن خان د سیاست په اړه د نړیوال امنیت مجلې یوه مهمه مقاله څېره کړي

د نړیوال امنیت (Global Security) د یوې مقالې پر بنسټ لیکي: چې داسې نښې موجودې دي چې عبدالرحمن خان ښایي ډیورنډ کرښه د: "delimitation of separate areas of political responsibility„


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

په توګه ليدلي وي؛ يعني د بېلابېلو سياسي مسؤوليتونو د ساحو د ټاکلو کرښه، نه حتمي او نه د تلپاتي نړيوال سرحد په توګه. د دې جملې ساده مانا څه ده؟ د سياسي مسوولیت د جلا برخو ټاکل او تفکيک,, يعنې:
,,د دوو حکومتونو ترمنځ د سياسي مسؤوليت د ساحو مالومول.,, دا جمله سمدستي داسي نه مانا ورکوي چې:
,,دا د افغانستان او برتانوي هند ترمنځ يو دايمي نړيوال سرحد و,,
د نړيوال امنيت مقاله دې احتمال ته اشاره کوي، چې عبدالرحمن خان ښايي د ۱۸۹۳م توافق په دې مانا ليدلی وي چې:
تر دې کرښې پورې د افغانستان سياسي مسؤوليت دی، او له هغې خوا د برتانوي هند سياسي مسؤوليت دی. دا مانا ورکوي، چې تر دې کرښې پورې د افغانستان سياسي مسؤوليت دی او له هغې خوا د برتانوي هند سياسي مسؤوليت دی. په بل عبارت، چې ,,کوم حکومت به په کومه سيمه کې سياسي مداخله او مسؤوليت لري؟,,

د "GlobalSecurity„ يا نړيوال امنيت مقالې د تحليل له مخې، داسې شواهد شته چې عبدالرحمن خان ښايي د ۱۸۹۳م ډيورنډ توافق يوازې د ځمکو د تلپاتي انتقال په توګه نه، بلکې د افغانستان او برتانوي هند ترمنځ د سياسي مسؤوليت او نفوذ د ساحو د ټاکلو په توګه ليدلی يا منلي وي. يعني د کرښې موخه دا وه، چې مالومه شي د کومې سيمې سياسي مسؤوليت د کوم حکومت پورې اړه لري.
د نړيوال امنيت مقالي ليکوال ليکي: د ډيورنډ کرښه د قومي او جغرافيايي واقعيتونو مطابق هم نه ده کښل شوې.
"GlobalSecurity" ليکي: چې ډيورنډ کرښې مېشت قومونه سره ووېشل؛ کلي کورونه يې سره جلا کړل؛ له طبيعي جغرافيې سره لږه اړيکه لري؛ له ديموګرافيک واقعيتونو سره يې هم بشپړ سمون نه درلود؛ او حتی له پوځي ستراتيجی سره يې هم تل نه سمون يا مناسبت نه درلود.
د نړيوال امنيت مقاله ليکي: چې عبدالرحمن خان د برتانوي امپراتوري د ګټو دوکوترينو له نظره داسې يو مشر و، چې ,, د دې ورتيا يې لرله، څو خپل ويشل شوي ولس په يوه ملي دولت کې بيرته سره يو ځای متحد کړي.
"capable of welding his divided people into a state" يعني وېشل شوي لوی افغانستان د يو دولت تر چتر لاندې د يو ځای کولو وړتيا يې لرله. خو په عين وخت کې هغه د برتانوي امپراتوری کنټرول له امله د خپل بهرني سياست پر سر محدوديتونه منلي وو .
د نړيوال امنيت مقاله ليکي: د ډيورنډ هوکړه د دوکو او د فشارونو په شرايطو کې ترسره شوې ده.
,,د عبدالرحمن خان او ډيورنډ موضوع بايد يوازې د دې پوښتنې له مخې ونه ارزول شي، چې ايا امير سيمې په خپله خوښه انګرېزانو ته ورکړې کنه؛ بلکې بايد وکتل شي چې هغه د کوم فشار، کوم نړيوال ځواک توازن او کومې سياسي محاسبې په شرايطو کې دې موافقې ته ورسېد، او خپله کرښه يې د څه شي په توګه تصور کوله.,, تر ټولو مهمه دا چې په خپله د نړيوال امنيت مقاله د دې احتمال يادونه کوي، چې عبدالرحمن خان ډيورنډ کرښه د دايمي نړيوال سرحد پر ځای د سياسي مسؤوليتونو د ساحو د ټاکلو په توګه ليدله.
"GlobalSecurity" دا احتمال مطرح کوي; چې عبدالرحمن خان ښايي د ۱۸۹۳م ډيورنډ موافقه د دې لپاره نه وي درک کړې، چې د افغانستان او برتانوي هند ترمنځ به د تل لپاره يو نړيوال سرحد جوړېږي؛ بلکې ښايي هغه يې د دې لپاره منلي وي، چې مالومه شي په کومو سيمو کې د افغانستان او په کومو سيمو کې د برتانوي هند سياسي مسؤوليت او نفوذ وي. دلته ,,سياسي مسؤوليت,, څه مانا لري؟
فرض کړئ يوه سيمه د دواړو خواوو ترمنځ پرته ده. د توافق له مخې ويل کېږي: په دې خوا کې افغان حکومت مسؤول دی؛ په هغې خوا کې برتانوي هند مسؤول دی؛ دواړه خواوې به د بلې خوا په سيمه کې مداخله نه کوي. ځکه دغه سيمه د صوبه سرحد په نامه يادېده.
دا په خپله د دې مانا نه لري، چې عبدالرحمن خان به حتماً په هغه وخت کې داسې فکر کاوه چې:
,, دا کرښه به د تل لپاره د افغانستان نړيوال سرحد وي او له دې وروسته به دا سيمې په قانوني ډول د افغانستان له قلمرو څخه د تل لپاره جلا وي.,, بلکې د "GlobalSecurity" په تعبير کې احتمال دا دی، چې د عبدالرحمن خان د ذهنيت لپاره ,,د نفوذ او سياسي مسؤوليت ساحې,, مفهوم هم مهم و. ځکه د ,,سرحد,, او ,,د نفوذ/مسؤوليت ساحې,, ترمنځ حقوقي او سياسي توپير شته.
که يو سند يوازې د نفوذ ساحې ټاکي، مانا يې دا ده چې ,, ته په دې سيمه کې خپل سياسي نفوذ لرې، زه په هغې سيمه کې.,, خو که سند په څرګنده توګه نړيوال سرحد وټاکي، مانا يې دا ده چې: ,,دا د يوه دولت قلمرو دی او له هغې بلې خوا بل دولت پيل کېږي.,,
د "GlobalSecurity" د ارزونې له مخې، داسې نښې شته چې عبدالرحمن خان ښايي د ۱۸۹۳م ډيورنډ موافقه د افغانستان او برتانوي هند ترمنځ د دايمي نړيوال سرحد د تثبيت پر ځای، د دواړو لورو د سياسي نفوذ او مسؤوليتونو


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

د ساحو د ټاکلو په توګه درک کړي وي. خو دا تعبير بايد د قطعي تاريخي حقيقت په توګه ونه ګڼل شي، بلکې د ډيورنډ موافقې د تاريخي او حقوقي ماهيت له ممکنه تفسيرونو څخه يو وبولل شي.
" GlobalSecurity" په خپل تاريخي تحليل کې عبدالرحمن خان داسې تشريح کوي، چې هغه د بريتانيا او تزاري روسيې د دوو ستر قدرتونو ترمنځ د افغانستان د بقا له ستونزې سره مخ و؛ له همدې امله يې خپل تمرکز پر داخلي مرکزي واک او د عصري دولت د بنسټونو پر جوړولو واړولو.

## ۷۴. عبدالرحمن خان؛ له تبعيد څخه تر ,,اوسپنيز امير,, پورې څوک و.؟

د "GlobalSecurity„ د مقالې ليکوال له نظره؛ عبدالرحمن خان يو ډېر پوه او پياوړی شخصيت و، چې د شخصيت د ټينګښت او له خلکو سره د معاملې په وړتيا کې يې د خپل نيکه امير دوست محمد خان خويونه او ځانګړنې لرلې.

## ۷۵. روسيې عبدالرحمن خان افغانستان ته له ټګ لپاره پرېښود.

په همدې وخت کې روسيه پوهېده چې برتانويان په افغانستان کې د يو قوي او با نفوذه مشر په لټه کې دي. له همدې امله عبدالرحمن خان ته يې اجازه ورکړه، چې افغانستان ته بېرته ولاړ شي. خو د روسانو محاسبه دا وه چې بنايي عبدالرحمن خان په راتلونکي کې د دوی د ګټو لپاره ګټوره سياسي وسيله وګرځي. د "GlobalSecurity" په تعبير، روسيه په دې محاسبه کې سخته تېروتنه وکړه.
عبدالرحمن خان افغانستان ته راغی، له برتانوي هند سره يې يوې موافقې ته ورسېد او د ۱۸۸۰م کال په جولای کې د کابل پر تخت کېناست: عبدالرحمن خان هغه افغانستان په ميراث کې واخيست چې سيمې يې له يو بل څخه جلا وې؛ قومي او سيمه ييز ځواکونه پياوړي وو؛ مرکزي حکومت کمزوری و؛ بهرني قدرتونه د افغانستان پر سر سيالي کولې.
خو عبدالرحمن خان د خپل ۲۱ کلن واک په ترڅ کې هڅه وکړه، چې دغه ټوټه ټوټه سياسي جوړښت په يوه مرکزي ملي دولت بدل کړي. مقاله ليکي: چې اوسپنيز امير د افغانستان د عصري دولت د جوړېدو په لور مهم ګامونه واخيستل.
د هغه د مرکزي کولو درې مهمې لارې
لومړی: هغه پاڅونونه په زور وځپل او له بريا وروسته يې سختې سزاوې، اعدامونه او تبعيدونه ترسره کړل.
دويم: هغه د ځينو پياوړو پښتني قبايلو د ځواک د ماتولو لپاره د خلکو اجباري لېږد يا ځای پر ځای کول هم ترسره کړل. د "GlobalSecurity" مقاله په ځانګړې ډول د غلجيو او ځينو نورو پښتنو قبايلو د شمالي سيمو پر لور د اجباري انتقالو يادونه کوي.
دريم: هغه ولايتي حکومتونه جوړ کړل، چې د پخوانيو قبايلي سرحدونو پر ځای د مرکزي حکومت د اداري جوړښت پر بنسټ ولاړ وو. واليانو ته پراخ واک ورکړل شو، خو امير د يوې اغېزمنې استخباراتي شبکې له لارې هغوی تر نږدې څارنې لاندې ساتل.

## ۷۵. د نړيوال امنيت مقالې مهمه تاريخي پايله

د "GlobalSecurity„ د مقالې ارزونه دوه مخونه لري:
يو مخ :عبدالرحمن خان په سخت زور، اعدامونو، تبعيدونو او د قبايلي قدرتونو په ماتولو سره مرکزي واک پياوړی کړ.
بل مخ:همدغه سخت مرکزي واک د افغانستان په ډېرو سيمو کې هغه نظم رامنځته کړ چې تر هغه مخکې کمزوری يا ناپايدار و. سيمه ييزو زورواکو ته يې محدوديتونه ولګول او د مرکزي دولت اداري او پوځي بنسټونه يې پياوړي کړل.
,,اوسپنيز امير,, يوازې د ظلم يا سختی لقب نه دی؛ دا د هغه د مرکزي واک، پوځ، اداري کنټرول او د دولت د جوړښت د سخت پلي کولو استازيتوب هم کوي.
د "GlobalSecurity„ د مقالې له مخې، د عبدالرحمن خان تر ټولو مهمه تاريخي هڅه دا وه، چې په افغانستان کې مرکزي واک د سيمه ييزو، قبايلي او مذهبي قدرتونو له سيالۍ څخه پورته کړي. هغه غوښتل چې د دولت امر يوازې په کابل کې نه، بلکې په ولايتونو او لرې پرتو سيمو کې هم عملي شي.
له قبايلي واک او ځواک څخه د مرکزي دولت په لور: عبدالرحمن خان په دې باور و، چې تر هغه چې هره سيمه خپلواک ځواک، وسله او د مالي خپل سيستم ولري، مرکزي حکومت به پياوړی نه شي.
له همدې امله يې سيمه ييز خپلسرې مشران يې تر مرکزي کنټرول لاندې راوستل؛ د ولايتونو اداري جوړښتونه يې پياوړې کړل؛ د مالياتو راټولول يې مرکزي کړل؛ منظم پوځ يې پراخ کړ؛ او د حکومت د امر د عملي کولو لپاره يې


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

واليان او مامورين وټاکل. خو دا پروسه ډېره سخته او له تاوتريخوالي سره مل وه. د هغه د واکمنۍ پر مهال د مخالفينو ځپل، اعدامونه، تبعيدونه او د ځينو خلکو اجباري انتقالونه هم ترسره شول.
همدلته د عبدالرحمن خان د دولت جوړوني دوه ګونې ميراث راڅرګندېږي: مرکزي دولت پياوړی شو، خو د دې پياوړتيا بيه په ډېرو مواردو کې د زور او بشري تلفاتو په بڼه ورکړل شوه.

## ۷۶. د امير په دربار کې، يوه کيسه"A Narrative" At the Court of the Amîr " دا کتاب اوسپنيز امير عبدالرحمن خان؛ د افغانستان د ملي مرکزي دولت بنسټګر معرفي کوي.

د اغلې ډاکټرې جان الفريډ ګرې (John Alfred Gray) ,, د امير په دربار کې؛ يوه کيسه,, يا روايت په نامه کتاب "چې په ۱۸۹۵ کال کې خپور شوی، د امير عبدالرحمن خان د شخصيت او واکمنۍ په اړه يو مهم معاصر تاريخي اثر دی. اغلې ګرې د امير د دربار ډاکټر وه او امير يې له نږدې ليدلی او کتلي و. له همدې امله د هغې مشاهدې او ليدنې کتنې د امير په پېژندلو کې ځانګړې ارزښت لري.
د جان الفريډ ګرې کتاب د امير عبدالرحمن خان د واکمنۍ د دورې د پېژندلو لپاره ځانګړی تاريخي اهميت او رزښت لري؛ ځکه ليکواله د امير د دربار او د هغه د حکومت له چاپېريال سره نږدې اړيکه لرله.
د دې اثر اهميت په دې کې نغښتی دی چې د افغانستان د اوسپنيز امير په اړه يوازې عمومي تاريخي مالومات نه وړاندې کوي، بلکې د هغه وخت د شاهي دربار، اداري نظام، سياسي اړيکو او د واکمنۍ د عملي څرنګوالي د درکولو لپاره هم يوه تاريخي کړکۍ پرانيزي.
خو يوه مهمه خبره بايد په پام کې ونيول شي: د دربار له نږدې ليدلوري ليکل شوی کتاب د پېښو مهم شاهد کېدای شي، خو د امير د شخصيت او حکومت په اړه د ليکوالې برداشتونه بايد د تاريخي حقايقو او نورو سرچينو په رڼا کې وارزول شي. د ګرې کتاب د متن له مخې، د امير په اړه د ليکوالې ليدلوری په څو مهمو برخو کې ويشل او څرګندېږي:
۱ . د قوي ارادې، ځانګړې هوښيارتيا، ځيرکتيا او د ژورې ځارنې خاوند واکمن
ګرې د امير د څېرې او حضور په بيان کې ليکي، چې هغه درونده شخصيت او غښتلي بدن، تېزې سترګې او د يوه نه ماتېدونکي ارادې انسان نښې نښانې لرلې. ليکواله د هغه شخصيت د "بيدارې ځواک" له انځور سره تشبيه کوي.
دا د امير په اړه د ګرې شخصي مشاهده ده، نه کومه رسمي سياسي ارزونه. د دې ليکنې ليکوال يعني (زما ) لپاره دغه ټکي او ارزونه خورا ځانګړې اهميت لري ځکه، انګرېزانو تل په خپلو ښکېلاګر تاريخونو کې اکثراً د دريمې نړې پاچاهان او مشران بې تمدنه، غلام صفته، ډارن، غوړمال، ساده او لوده معرفي کړي دي، خو د اوسپنيز امير په اړه دوی تولو دا تصديق کړي، چې امير عبدالرحمن خان يو هوښيار، ځيرک، تيز فکره، واقعيت پال او د يوې پياوړې نه ماتېدونکي ارادې خاوند افغان پاچا و.
۲ . د افغانستان مرکزي واک او اداري بدلونونو لوی نوښتګر پاچا
ګرې د کتاب په سرېزه کې يادونه کوي چې د امير له واک ته رسېدو وروسته د افغانستان په اداره کې د پاموړ بدلونونه راغلل. د کتاب په وروستيو برخو کې د امير د واکمنۍ، د هېواد د پرمختګ، زده کړې او د کسبونو د پراختيا په اړه هم بحث کوي.
۳ . د دربار تر څنګ د امير شخصي ژوند انځور وړاندې کوي
کتاب يوازې د امير د سياسي واک په اړه نه دی. ليکواله د امير له شخصي ليدنو، خبرو اترو، روغتيا، کورنۍ، دربار او له بهرنيو متخصصانو سره د اړيکو يادونه هم کوي. ځکه پايله دا ده چې امير عبدالرحمن خان د افغانستان په تاريخ کې د مرکزي دولت د پياوړتيا او د سياسي واک د تمرکز له مهمو څېرو څخه و. د هغه ميراث يوازې په يوځې ځواک او سختې واکمنۍ پورې نه محدود وي؛ بلکې د افغانستان د دولتي ادارې، مرکزي واک او د هغه وخت د نړيوالو سياسي فشارونو د تاريخ يوه مهمه برخه هم ګڼل کېږي.
د جان الفريډ ګرې کتاب موږ ته دا فرصت راکوي چې د "اوسپنيز امير" شخصيت له نږدې تاريخي ليدلوري وڅېړو؛ داسې شخصيت چې د افغانستان د دولت د پياوړتيا په بهير کې يې مهم رول ولوباوه، خو د هغه د واکمنۍ د بشپړ تاريخي انځور لپاره بايد لاسته راوړنې، محدوديتونه او انساني لګښتونه يې ټول په پام کې ونيول شي. داکتره ګرې په شاهي دربار کې د امير شخصي جراحي ډاکټر وه، د هغې مشاهدې د امير د ورځني ژوند د پېژندلو لپاره ځانګړې ارزښت لري.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

۴ . د یوې مطلقې واکمنۍ واقعیت
انګرېزه ډاکټره ګرې د کتاب په پای کې عبدالرحمن خان د افغانستان مطلق‌العنان واکمن بولي او لیکي چې د هغه نفوذ پر هېواد خورا ژور و. دا ښيي چې د امیر د دولت پیاوړتیا ترڅنګ، سیاسي واک هم تر ډېره د یوه شخص په لاس کې متمرکز و.
لنډه دا چې د دې کتاب تاریخي ارزښت په دې کې نغښتی دی. چې دا کتاب په ۱۸۹۵ کال کې په لندن کې خپور شوی او ۵۲۳ مخونه لري. په نوولسمې پېړۍ کې د افغانستان او برتانوی هند اړیکو ته د ننه څخه یوه په زړه پورې کتنه کوي. لوستونکی ته دا تاریخي کیسه د افغانستان د تاریخ او د هغې دورې د پېچلو ډیپلوماتیکو اړیکو په اړه یو ځانګړې لید لوري وړاندې کوي. لیکواله جان الفرېډ ګرې د امیر عبدالرحمن خان د دربار جراحي ډاکټر وه. د کتاب بشپړ متن د,,Project Gutenberg ,, په وړیا ډیجیټلي زېرمتون کې لوستل کېدای شي.
ګرې عبدالرحمن خان د پیاوړې ارادې، ځیرکې څارنې او متمرکز سیاسي واک لرونکي واکمن په توګه انځوروي. امیر په داسې وخت کې واکمن شو، چې افغانستان له داخلي اختلافونو او د برتانوي هند او تزاري روسیې له سختو سیاسي فشارونو سره مخ و. هغه د مرکزي حکومت د پیاوړتیا، د اداري د تنظیم او د هېواد د سیاسي ثبات لپاره هڅې وکړې.
البته، د هغه د واکمنۍ سختو سیاستونو له ځان سره جګړې، جبري اقدامات او انساني کړاوونه هم لرل؛ خو د افغانستان د مرکزي دولت د جوړښت په تاریخ کې د هغه رول د پامور دی.
تاریخي ارزښت یې په دې کې دی چې عبدالرحمن خان د افغانستان د مرکزي واک د پیاوړتیا لپاره ژور بنسټیز بدلونونه رامنځته کړل. د ګرې کتاب موږ ته د افغان اوسپنیزه واکمن د شخصیت او د هغه وخت د افغانستان د سیاسي واقعیتونو د درکولو په اړه یوه مهمه کړکۍ پرانیزي.
پایله دا ده چې امیر عبدالرحمن خان د افغانستان په تاریخ کې د مرکزي دولت د پیاوړتیا او د سیاسي واک د تمرکز له مهمو څېرو څخه و. د هغه میراث یوازې په پوځي ځواک او سختې واکمنۍ پورې محدود نه دی؛ بلکې د افغانستان د دولتي اداري، مرکزي واک او د هغه وخت د نړیوالو سیاسي فشارونو د تاریخ یوه مهمه برخه هم ده.

## ۷۷. تولیزه علمي پایله:
د عبدالرحمن خان او اوتو فون بیسمارک پرتله ښيي چې د پیاوړي مرکزي دولت رامنځته کېدل یوازې د یوه ځواکمن مشر په اراده او شخصي واک پورې نه محدودېږي؛ بلکې پوځ، اداره، مالیه، قانون، نظم، ډیپلوماسي، سیاسي مشروعیت او د دولت د حاکمیت د پراخولو وړتیا ټول د دولت جوړونې په بهیر کې مهم رول لري. له همدې امله د دواړو شخصیتونو تاریخي پرتله باید یوازې د ,,اوسپنیز,, لقب پر بنسټ ونه شي، بلکې د هغوی د تاریخي شرایطو، سیاسي موخو، دولت جوړونې د وسایلو او پایلو له مخې وڅېړل شي.
عبدالرحمن خان د نولسمې پېړۍ په وروستیو لسیزو کې د افغانستان د مرکزي دولت د پیاوړتیا په بهیر کې مهم رول درلود. هغه په داسې سیاسي چاپېریال کې واک ته ورسېد، چې سیمه ییز، قبایلي او کورني قدرتونه پیاوړي وو او د کابل د مرکزي حکومت حاکمیت په ټول هېواد کې محدود و. د هغه د دولت جوړونې اساسي محور د مرکزي واک پراخول، د سیمه ییزو قدرتونو تابع کول، د منظم پوځ رامنځته کول، د مالیې او اداري د سیستم پیاوړتیا او د دولت د حاکمیت پراخول وو. په دې توګه، د عبدالرحمن خان د دولت جوړونې پروژه تر ډېره د داخلي سیاسي نظم د مرکزي کولو او د دولت د اداري او پوځي ظرفیت د پیاوړتیا پر بنسټ ولاړه وه.
افغانستان د نولسمې پېړۍ په وروستیو کې د دوو سترو امپراتوریو، د برتانوي هند او تزاري روسیې، ترمنځ پروت و. له همدې امله، عبدالرحمن خان له داسې پېچلي جیوپولیټیک وضعیت سره مخ و چې په کې یې باید په عین وخت کې دوه ستر هدفونه تعقیب کړي وای:
لومړی: په افغانستان کې خپل مرکزي دولت پیاوړی او د هېواد پر بېلابېلو سیمو د دولت واکمني ټینګه کړي؛
دویم: افغانستان د دواړو سترو امپراتوریو له مستقیمې جګړې، پوځي مداخلې او احتمالي اشغال څخه وساتي.
همدلته د *(Realpolitik)* ,,واقعیت‌پالنې,, مفهوم خپل ځانګړی اهمیت پیدا کوي. واقعیت پالنه په بهرني سیاست کې دا اصل په پام کې نیسي، چې دولتونه تر ډېره د خپلو امنیتي، سیاسي او جیوپولیټیکي ګټو پر بنسټ پرېکړې کوي، نه یوازې د ایډیالجیکو یا اخلاقي اصولو له مخې:
له همدې زاویې، د ۱۸۹۳ کال د ډیورنډ تړون هم باید په خپل تاریخي او جیوپولیټیک زمینه کې وکتل شي. دا تړون په ساده ډول داسې نه شو تعبیرولای چې: „عبدالرحمن خان افغانستان ټوټه کړ او خپله خاوره یې برتانیا ته ورکړه.“ دا ډول تعبیر د هغه وخت پېچلی سیاسي وضعیت تر یوه ساده روایت لاندې راولي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنېږ بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

د ټرون له مخې د افغانستان او برتانوي هند ترمنځ د نفوذ ساحې مشخصې شوې. د دې ترتيباتو په پايله کې د پښتني قبايلو ځيني سيمې د افغانستان له مرکزي اداري واک څخه بهر او د برتانوي هند د اداري يا نفوذ په ساحه کې پاتې شوې. له همدې امله، د ډيورنډ ټرون يوازې د يوې کرښې د رسمولو موضوع نه وه؛ بلکې د هغه وخت د برتانوي هند او افغانستان ترمنځ د قدرت، امنيت او نفوذ د توازن يوه برخه وه.
البته، د دې کرښې د دقيق حقوقي ماهيت، د هغې د دايمي ,,نړيوال سرحد,, په توګه د حيثيت، د ټرون د حقوقي تعهداتو، او په ځانګړې توګه له ۱۹۴۷ کال را وروسته د هغې د حقوقي او سياسي وضعيت په اړه تر نن ورځې پورې بحثونه دوام لري. د ډيورنډ کرښې لمنځه وړلو لپاره د کرښې په دواړو غاړو کې د پښتنو افغانانو مبارزه روانه ده.
له همدې امله، د ډيورنډ مسئله نه يوازې د يوه تاريخي ټرون په توګه، بلکې د حقوقي، سياسي، جيوپوليټيکي او هويتي اړخونو د ګډې موضوع په توګه بايد وڅېړل شي.
عبدالرحمن خان د خپل وخت د سخت جيوپوليټيک فشارونو په شرايطو کې له برتانوي هند سره داسې توافق وکړ، چې افغانستان ته يې د دولت د بقا او نسبي امنيت زمينه برابره کړه، خو په بدل کې يې د افغانستان د نفوذ او ادعاوو په ختيځ کې د پامور محدوديتونه ومنل؛ د همدې پرېکړې اوږدمهاله پايلې تر نن ورځې پورې د سياسي او حقوقي بحث موضوعات دي. د عبدالرحمن خان د ميراث د ارزونې لپاره ښايي تر ټولو مناسبه تاريخي پوښتنه دا نه وي چې:
,,ايا هغه ښه واکمن و که بد؟,, بلکې دا ده: هغه په کومو شرايطو کې څه ترلاسه کړل، څه يې له لاسه ورکړل، او د خپلو لاسته راوړنو لپاره يې څه بيه ورکړه؟ د دې پوښتنې له مخې عبدالرحمن خان يو متناقض تاريخي ميراث پرېښود.
هغه مرکزي دولت، پوځ، اداري نظم او د حکومت د عملي واک ساحه پياوړې کړه؛ خو د دې بهير لپاره يې له سختو قهريه وسايلو استفاده وکړه. له بهرنيو قدرتونو سره يې د افغانستان د بقا لپاره سياسي موازنه وساتله؛ خو د دې سياست ځينې پايلې، په ځانګړي ډول د ډيورنډ د کرښې ميراث، د افغانستان په راتلونکي تاريخ کې له اوږدمهالو سياسي او ملي بحثونو سره مل شوې.
همدا متضاد ميراث دی چې په تاريخ کې عبدالرحمن خان يوازې يو ,,مستبد واکمن,, يا يوازې يو ,,ستر دولت ساز ,,د اوسني افغانستان معمار نه پرېږدي؛ بلکې هغه د نولسمې پېړۍ د افغانستان د دولت سازۍ، ځواک، مصلحت، جيوپوليټيک فشار او سياسي بيې له تر ټولو پېچلو څېرو څخه جوړوي. له همدې ځايه د بيسمارک سره پرتله خپل اصلي ارزښت پيدا کوي.
دواړه د اوسپنيز سياستوال وو؛ خو يو له ځواک څخه د دولت د پراختيا او يووالي لپاره کار واخيست، او بل له محدود ځواک څخه د دولت د مرکزي کولو او بقا لپاره کار واخيست.
اوټو فون بيسمارک د پروشيا له نسبتاً پياوړي سياسي او پوځي بنسټ څخه د جرمني د سياسي يووالي پر لور حرکت وکړ. هغه د پوځ، جګړې، ډيپلوماسۍ، سياسي ائتلافونو او (Realpolitik) يا واقعيت پالنې څخه په ګډه استفاده وکړه او په ۱۸۷۱ کال کې د جرمني امپراتورۍ د رامنځته کېدو په بهير کې يې مهم رول ولوباوه. د بيسمارک سياست يوازې په پوځي ځواک پورې محدود نه و؛ بلکې ډيپلوماسي، د اروپايي قدرتونو ترمنځ د توازن ساتل، سياسي محاسبه او اداري ـ ټولنيز سياستونه هم د هغه د دولت جوړونې مهم عناصرونه ول.
عبدالرحمن خان د افغانستان د مرکزي دولت د جوړونې ,,اوسپنيز امير,, و؛ بيسمارک د جرمني د سياسي يووالي او دولت جوړونې ,,اوسپنيز چانسلر يا صدراعظم,, و. دواړو د قوي دولت لپاره له سخت ځواک څخه کار واخيست، خو بيسمارک د پوځ تر څنګ ډيپلوماسي، ائتلافونه او حقوقي ـ اداري اصلاحات په ډېر پراخ ډول وکارول، په داسې حال کې چې د عبدالرحمن خان د دولت جوړونې محور تر ډېره د مرکزي واک، پوځ او د داخلي قدرتونو د تابع کولو پر بنسټ ولاړ و.
د کابل اوسپنيزه امير او د برلين اوسپنيزه صدراعظم ، له کابل تر برلين د ځواک مرکزي دولت او سياسي واقعيت پالنې دوه بېلابېل روايتونه اوسپنيز سياستونه وو، چې د کابل اوسپنيز امير د جرمني اوسپنيز صدراعظم تل سره پرتله کېږي.
که بيسمارک د جرمني د يووالي معمار و، عبدالرحمن خان د افغانستان د مرکزي دولت معمار و؛ که د بيسمارک اوسپنه د وينې، ډيپلوماسۍ او(Realpolitik ) په ګډه جوړه شوې وه، د عبدالرحمن خان اوسپنه هم د پوځ، اداري، مرکزي واک او سخت اطاعت په وسيله جوړه شوې وه: پرته له شکه اوسپنيز امير او اوسپنيز صدراعظم د ځواک او دولت جوړونې دوه بېلابېلې لارې وې.
د دواړو شخصيتونو ترمنځ اساسي ورته والی د قوي دولت د جوړولو لپاره د مرکزي واک او سخت سياسي ځواک په کارولو کې ليدل کېږي؛ خو د هغوی تاريخي شرايط او د دولت جوړونې موخې يو شان نه وې. عبدالرحمن خان تر ډېره د افغانستان د داخلي سياسي ټوټه ټوټه حالت د مرکزي کولو، د سيمه ييزو قدرتونو د تابع کولو او د دولت د


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رالېږلو مخکې په ځير و لولئ

حاکمیت د پراخولو هڅه کوله. بیسمارک بیا د پروشیا د ځواک په کارولو سره په جرمني کې د ګڼو واړو جرمن خپلواک دولتونه د سیاسي یووالي او د نوي جرمني ملي متحد دولت د نړیوال موقعیت د پیاوړتیا لپاره د پوځي ځواک، ډیپلوماسي او واقعیت پالنې له لارې سره یو ځای کړل.

له همدې امله، د دواړو لپاره د ,,اوسپنیز,, اصطلاح باید د مطلق مشابهت په مانا ونه کارول شي. دا اصطلاح د دواړو د قوي سیاسي ارادې، د دولت د ځواک د پیاوړتیا او د سیاسي موخو د عملي کولو لپاره د سختو وسایلو د کارونې اشاره کوي؛ خو د دې ,,اوسپنې,, تاریخي دنده او سیاسي زمینه توپیر لري. د عبدالرحمن خان ,,اوسپنیز,, سیاست تر ډېره د افغانستان د داخلي دولت جوړونې، مرکزي کولو او د مرکزي حاکمیت د ټینګښت له اړتیاوو سره تړاو درلود، په داسې حال کې چې د بیسمارک ,,اوسپنیز,, سیاست د پروشیایي ځواک، جګړې، ډیپلوماسۍ او واقعیت پالنې له لارې د جرمني د یووالي او د نوي دولت د پیاوړتیا له پروسې سره تړلی وو.

د دواړو د دولت جوړونې د بهیرونو د مقایسې له مخې، عبدالرحمن خان د پوځ، ادارې، مالیې او مرکزي واک د پراختیا له لارې د افغانستان د دولت د حاکمیت د ټینګښت هڅه وکړه؛ بیسمارک بیا د پروشیا د پوځي ځواک ترڅنګ له ډیپلوماتیکو ائتلافونو، جګړو، سیاسي مانورونو او اداري ـ ټولنیزو سیاستونو څخه استفاده وکړه. له همدې امله، د دواړو شخصیتونو ترمنځ څېړنیزه پرتله د دوو ورته شخصیتونو ساده مشابهت نه، بلکې د نولسمې پیړۍ په دوو بېلابېلو تاریخي او سیاسي چاپېریالونو کې د دولت جوړونې د دوو متفاوتو ماډلونو پرتله ده.

په ټولیزه توګه، عبدالرحمن خان د افغانستان د مرکزي دولت د پیاوړتیا په بهیر کې د مرکزي واک، پوځ او ادارې پر بنسټ یو نوی دولتي نظم رامنځته کولو ته زمینه برابره کړه؛ بیسمارک بیا د پروشیا د ځواک، پوځ، ډیپلوماسۍ او واقعیت پالنې په وسیله د جرمني د سیاسي یووالي او د نوي امپراتورۍ د بنسټونو په جوړولو کې مهم رول ولوباوه. دواړو د دولت د ځواکمنتیا لپاره له سختو سیاسي وسایلو کار واخیست، خو د هغوی موخې، تاریخي شرایط، سیاسي جوړښتونه او د دولتجوونې لارې له یو بل سره توپیر درلود.

په ورستۍ پایله کې، د عبدالرحمن خان او بیسمارک مقایسوي مطالعه څرګندوي چې د ,,اوسپنیز,, سیاست مفهوم په بېلابېلو تاریخي شرایطو کې یوه واحده مانا نه لري. د عبدالرحمن خان په مورد کې دا مفهوم تر ډېره د داخلي مرکزي دولت د جوړونې او د حاکمیت د ټینګښت له بهیر سره تړاو لري، په داسې حال کې چې د بیسمارک په مورد کې د جرمني سیاسي یووالی، د پروشیایي ځواک پراختیا، ډیپلوماسي او د نوي دولت د ثبات سیاستونه اساسي اهمیت لري. له همدې کبله، د دواړو شخصیتونو تاریخي ارزونه هغه وخت علمي اعتبار موندلی شي چې د شخصیتي مشابهت پر ځای د دولت جوړونې د جوړښتونو، وسایلو، موخو او تاریخي شرایطو پر بنسټ ترسره شي.

په لنډه توګه، که بیسمارک د پروشیا د ځواک او ډیپلوماسۍ له لارې د جرمني د سیاسي یووالي له مهمو معمارانو څخه و. عبدالرحمن خان د پوځ، ادارې، مالیې او مرکزي واک له لارې د افغانستان د مرکزي دولت د پیاوړتیا له مهمو معمارانو څخه ګڼل کېږي. د دواړو ګډه ځانګړنه د قوي دولت جوړونې هڅه وه؛ خو د دې موخې لپاره د هغوی لارې، تاریخي شرایط او سیاسي وسایل له یو بل سره بنسټیز توپیر لرلو.

پای

مهمې علمي سرچینې او اخيځلیکونه:

---


- M. Hasan Kakar, Government and Society in Afghanistan: The Reign of Amir ‘Abd al-Rahman Khan, University of Texas Press, 1979.
- Iron Chancellor» Royal United Services Institute (RUSI.,, د بیسمارک د ټولنیزو قوانینو په اړه تاریخي څېړنې او.EBSCO

2. David B. Edwards, Heroes of the Age: Moral Fault Lines on the Afghan Frontier, University of California Press, 1996؛ دریيم فصل: The Reign of the Iron Amir.
3. Deutsches Historisches Museum (DHM)، د Otto von Bismarck ژوند، د جرمني یووالی او داخلي سیاست.
4. Deutsches Historisches Museum، د بیسمارک ټولنیز قوانین او د کارګرانو سیاست.
5. د بیسمارک د ۱۸۶۲ کال د,,Eisen und Blut« ,, وینا تاریخي اسناد.

Volker Ullrich, *Bismarck: The Iron Chancellor* (London: Haus Publishing, 2008). د کتاب عمومي بحث د «Iron Chancellor» له مشهور تصویر سره د بیسمارک د تاریخي شخصیت او سیاست د پیچلتیا پرتله کوي.





افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de

یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

Ibid.د پوځ د داخلي «pacification» په اړه د Kakar تحلیل وګورئ.
*Agreement between His Highness Amir Abdur Rahman Khan and Sir Henry Mortimer Durand*, Kabul, 12 November 1893, Preamble. د سند معاصر ډیجیټل متن او د India Office Recordsثبت+1 : POHAN Archive. Wikisource+1
Ibid., Art. 1.د لومړی مادې اصلي متن د ۱۸۹۳م تړون په ډیجیټل نقل کې موجود دی Wikisource .
Ibid., Art. 6.د تړون متن په Qatar Digital Library کې هم د هند د تړونونو د ټولګې په برخه کې ثبت شوی دی Qatar Digital Library .
7. ‘Abd al-Rahman Khan, *The Life of Abdur Rahman, Amir of Afghanistan*, vol. 2 (London: JohnMurray, 1900), pp. 154–155.د کتاب اصلي ډیجیټل مجموعه د Library of Congressله لارې موجوده ده+1 Library of Congress .
Ibid.د “house” او “strong wall” تشبیه د عبدالرحمن خان د خپل سیاسي روایت یوه برخه ده. د دې روایت تحلیلي بحث هم په *Heroes of the Age* کې راغلی دی UC Press E-Books Collection .
Ullrich, *Bismarck: The Iron Chancellor*.
8. BY John Alfred Gray,M.B Lond. Late Surgeon to H.H. Amir of Afghanisten” At the Court of the Amîr: A Narrative” London Richard Bentley and the Queen 1895. www.gutenberg.org/files.،
‘Abd al-Rahman Khan. *The Life of Abdur Rahman, Amir of Afghanistan*. 2 vols. London: John Murray, 1900.د کتاب اصلي ډیجیټل نسخه د Library of Congress له لارې موجوده ده Library of Congress.
*Agreement between His Highness Amir Abdur Rahman Khan and Sir Henry Mortimer Durand*. Kabul, 12 November 1893.د تړون متن په POHAN Archive کې د ۱۸۹۳م ډېرنډ موافقې ثبت او د Qatar Digital Library د هند د تړونونو په مجموعه کې موجود دی POHAN Archive +1 .
9. Ullrich, Volker. *Bismarck: The Iron Chancellor*. London: Haus Publishing, 2008. JSTOR
Gerwarth, Robert. *The Bismarck Myth: Weimar Germany and the Legacy of the Iron Chancellor*. Oxford: Oxford University Press, 2005. OUP Academic.